د افغانستان بانک

د غیر بانکي مالي مؤسساتو د څارنې لوی آمریت

د مقرراتو او څارنې لوی مرستیالیت

د مقرراتو مدیریت

گڼه: ۱۱۱۰۰ ........ ۱۱۳۱۴ / ۹۶۸ ۱۱۳۳۶

نیټه: ..۱..../..۸.../۱۴۴۷ ۱۴۰۴/۱/۳۰

بسم الله الرحمن الرحیم

**د صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو محترمو اتحادیو ته!**

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته،

ماهیت: متحدالمال

موضوع: د صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو په دفترونو کې د امنیتي کامرو نصبول

د ډېر درناوي وروسته؛

څرنگه چې د صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو څخه د څارنې په ترځ کې ولیدل شـــول، د ځینو صرافیو او پولي خدمتونو په دفترونو کې او له دفترونو څخه بهر شاوخوا لازمو ساحو کې امنیتي کامرې ندي کارول شوي.

په دي توگه، د مصـــؤنیت او شـــفافیت لپاره د صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو ته هدایت ورکول کیږي چې د شرکت په مرکزي او د څانگو په دفترونو کې امنیتي کامري نصب کړی او د یادو کامرو ضبط شوې اطلاعات کم ترکمه د ٦ میاشتو لپاره وساتي، د یادونې وړ ده چې د خاصو پیښو په صورت کې اړوند اطلاعات دي لږ ترلږه د دوو کلنو لپاره وساتل شي.

د صرافی او پولی خدمتونو ټولي اتحادیي مکلفي دي چې پورته موضـوع ټولو مجوزو صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو سره د لازمو اجراآتو په موخه شریک کړي.

د افغانستان بانک ستاسو د لا زیاتو بریاوو غوښتونکي دی. والسلام

۱۴۴۷/۷/۲۹

صدیق الله خالد

د افغانستان بانک لومړی مرستیال

کاپی:

- د بربښنایي پیسو او ادایینزو مؤسسو اتحادیې ته (د پورته اجراآتو په موخه)؛
- د وړو مالي تمویلونو مؤسسو اتحادیې ته(د پورته اجراآتو په موخه) او
- د زونونو همغږي د ریاست دفتر قدر وړ مرستیالیت ته.